

# ښکلې کیسې

Ketabton.com

لیکوونکی : عثمان غني

کال : 1399

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ښکلې کيسې

1

**امام حسن البناء رحمه الله!!!....**

د مصر د قاهرې نه لرې په يوه کلي کې د روژې په مياشت کې د لمونځ کوونکو تر منځ اختلاف پيدا شوی وو، تر داسې حده چې نږدې وه دا اختلاف په جګړې واوړي، ځينو ويل :د تراويح رکعتونه شل دي...
نورو ويل :نه نه د حضور صلى الله عليه وسلم نه يوازي اته رکعته ثابت دي.

د حضرت عمر رضى الله عنه په عصر کې صحابه وو رضى الله عنهم شل رکعته د تراويح لمونځ په جماعت سره اداء کاوه، آيا هغوی تېروتي وو؟!
د شلو دليل ضعيف دئ!

موږ خو خپل مشران د اته رکعتيزو تراويح په ويلو ليدلي دي
د اتو دليل کمزوری دئ موږ خو شل رکعته وايو
د دوی له منځ نه يو اجنبي شخص پورته شو او په لوړ ږغ ئې وويل:

أيها الاخوان) !!اې ورونو
د ده آواز درونږ وو، همدا دليل وو، چې د بحث خلک ټول د ده خوا ته متوجه شول، زه د تراويح د لمونځ په اړه له ډېره وخته ستاسې بحث اورم، په مسجد کې ږغ اوچتول د مسجد د آدابو خلاف عمل دئ، حالانکه ستاسې بحث خو د جګړې حالت غوره کوي.

دا ستونزه د حل کېدلو پر ځای لا پېچلې کيږي، که تاسې زما د دوو پوښتنو ځواب ووايأست، کېدای شي دا مشکل حل شي، آيا تاسې ماته د دې خبرې اجازه راکوئ؟!
هو هو وفرمايه، بس دغه ستونزه دې حل شي، له مختلفو سَمتونو نه آوازونه اوچت شول.

پوښتنه دا ده :اجنبي شخص خلک خپل خوا ته متوجه کړل او وئې ويل :د تراويح شرعي حکم څه دئ؟ فرض دي، سنت دي او که نفل؟!
دا نفل دي نفل دي ...خلکو ځواب ورکړ، ډېر ښه اوس دا ووايأست، چې په اسلام کې د مسلمانانو د اتحاد او اتفاق او اخوت و محبت په اړه څه حُکم دئ؟
فرض دئ اخوت فرض دئ ...خلکو ورغبرګه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

أيها الاخوان)اې ورورنو (
نفل هغه عمل دئ که کله نا کله ترسره نشي گناه نشته، خو فرض بیا هغه څه دئ چي په پرېښودلو ئې انسان گنهگار کیږي، آیا ما صحیح خبره وکړه که نه...

هو بالکل صحیح خبره ده ...ټولو په یو ځای ځواب ورکړ
واعتصموا بحبل الله جمعیاً و لا تفرقوا
مونږ باید د هغه ذات رسئ مضبوطه ونیسو، چي پرې مأمور شوي یو او له جلا کېدلو نه ئې منع کړي یو، ځکه په خپل منځیو جگړو مسلمانان بې همته کیږي.

ولا تنازعوا فتفشلوا و تذهب ریحکم...
تراویح سنت دي، خو اتحاد بیا فرض!

اوس تاسي راته ووایاست چي کوم شخص چي د یو سنت د قیام لپاره د مسلمانانو تر منځ تفرقه او جلاوالی راولي؛ داسي کس به د دین خیرخواه وي او که دښمن؟
دښمن دښمن ...مکمله ټولنه په یو بږغ

ستاسي دښمن مو اتحاد غواړي که انتشار؟!
انتشار ...انتشار...
اوس فکر وکړئ کوم شخص چیي د رسول الله صلی الله علیه وسلم په امت کي بېلتون راولي، آیا هغه به د رسول اکرمؐ ریښتنی او مخلص امتي وي؟!

د حضور اکرمؐ پیروکار؛ نه نه !!!هغه به د دښمن جاسوس وي...
په دغه وخت کیبو ځوان پورته شو او په لوړ بږغ ئې وویل که څوک بیا داسي وکړي ته به ئې منع کړې او که به ئې ملگری شې.
زه به ئې منع کوم...

تاسي ته د اتو او شلو رکعتونو مسئله مهمه ده، که د مسلمانانو د اتحاد او اتفاق؟!
اتفاق اتفاق ... د ټولني بږغ

ایها الاخوان
که تاسي اتحاد غواړئ نو لږ قرباني به ورکوئ، آیا قرباني ورکوئ؟!
موږ هر ډول قرباني ته چمتو یو...
قرباني به بس دا وي، چي پر کوم امام یا خپل تحقیق چي مو اعتماد او اطمینان وي عمل وربانديي وکړ ...ئنور

(c) ketabton.com: The Digital Library

کسان په دلیل پوه کړئ؛ خو د نورو د رائې او تحقیق احترام هم وکړئ، ځکه هر مسلمان د خپل موقف د ریښتین ولې لپاره د قرآن او سنت نه دلیل وړاندي کوي، هیڅ مسلمان له انجیل او تورات نه دلیل نه راوړي، په تعبیر او تشریح کي اختلاف فطري امر دئ، په فروعي مسائلو کي چي څوک کومي رأيي ته اعتبار ورکوي عمل دي پرې وکړي، خو د دین د بنیادي او متفقه مسائلو او په ژوند کی د هغوی د نافذ کولو لپاره ټول په ګډه هلي ځلي وکړئ.

ستاسي دښمن که انګرېز وي او که یهودي؟ هغه به ستا د وژلو په وخت هیڅکله دې ته ونه ګوري چي فلان شافعي د او فلان حنفي، دی اته رکعته تروایح کوي او هغه بل شل رکعته، د هغوی په سترګو کي هر کلمه ویوونکی یو دئ، د هغوی د بریا راز دا دئ چي تاسي د یو بل سره وجنګوي.
ځکه نو ضرورت دا دئ چي مونږ نن د فروعي اختلافاتو نه پورته شو او د کفر او ظلم خلاف سره یو شو، او له ځانونو نه کامل او صحیح مسلمانان جوړ کړو.

د اجنبي وینا ختمه شوه...
خلک ور ولاړ شول او له ډېري میني او احترام نه ئې د هغه سره مصافحه پیل کړه، یو معزز شخص ورته را مخکی شو او وئې پوښتل :زه ستا له خبرو نه ډېر متأثر شوم که مو ځان راته معرفی کړئ!

اجنبي :زما نوم حسن البناء دئ او زه په قاهره کي اوسم.

2

د ۲۰۱۱ زېږدیز کال د نومبر د میاشتي پر ۱۹ نېټه له یوې زړې کنډوالې څخه داسي یو څوک ونیول سو چي له نژدې پنځه یا شپږو میاشتو څخه همدلته پټ سوی و، هغه سخت ژوبل او ناروغ و، د خوني( کوټې) حال دومره خراب و چي نه رڼا ورتلله ، نه تازه هوا او نه یې تشناب درلود، د دې سړي ځښاک، خوراک، خوب او حاجت پوره کول ټوله په همدې څلور دېواله خونه کي تر سره کېدل. کله چي دا کس ونیول سو، ګمان کېدی چي له ډېري مودې څخه وږی او تږی پاته سوی او په اونیو اونیو نه دی لمبېدلی. د هغه نیالی ، بالښت او شړی دومره خیرن ول چي پکښې پرېوتل خو هلته پرېږده په ورته کتلو یې د سړي خوا را ګرزېده. په خیرن او بوینه شړی کي نغښتل سوی کوم کس چي ونیول سو دا یو عام سړی نه و، بلکي څه موده وړاندي همدا سړی ډېر شتمن و، دا هغه څوک و چي نوم یې د نړۍ د څو شتمنو او اغېزمنو خلکو په کتار کي راتلی، هغه ډېر د سکون ژوند تېراوی، هغه پر عیاشیو باندي په ثانیېو کي په میلینونو ډالر مصرفول. یو وخت یې د لندن په ښار کي په خپل موټر کي سفر کاوی چي د لندن په شمال کي یې یوه ښکلې ماڼۍ(بنګله) خوښه سوه او د همدې ماڼۍ د رانیولو پرېکړه یې وکړه خو د کور خاوند یې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرڅولو څخه نټه وکړه او دې ښاغلي د خپل ضد له مخې پر هغه ځای دوه برابره پیسې یاني لس میلیونه برټش پونډز د ماڼۍ خاوند ته ورکړل او کور یې ځني واخیست.

په ۲۰۰۹ زیږدیز کال کي نوموړي خپله ۳۷ مه کلیزه ولمانځله، چي د نړۍ تر ټولو شتمنو خلکو پکښې ګډون وکړ، په هغوی کي د روسیې"Albanian tycoon "، د زرو د زېرمو څښتن "peter Munk " او " prince of Monaco "albert" غوندي د نړۍ مشهورو څېرو ګډون کړی وو، او دغه کلیزه تر ننه د نړۍ په ګران بیه کلیزو کي شمېرل کیږي.

دا سړی دتر ټولو ګران بیه انځورګرۍ د رانیولو شوقي و، هغه د خپلي ماڼۍ د ښایست لپاره د مالیت پر انځورګرۍ په اربونو ډالر ورکړي ول.

په ۲۰۰٦ مېلادي کال کي پر اسرائیلی ممثلې (اداکاري) باندي مین سو، او د هغې د خپلولو لپاره یې پرېمانه دولت مصرف او پر هغې انبار کړ، هغه و چي"orly weinerman " یې انډیواله ( ګرل فرینډ) سوه، دا نو د نړۍ تر ټولو ګران بیه انډیواله نجلۍ وه.د برتانیې پخوانی لومړی وزیر ټوني بلیر د نوموړي ډېر ټینګ ملګری و. د برتانیې شاهي کورنۍ هغه څو ځلي په "buckinggham palace"او "wensley castle "کي د ماښامنۍ او غرمنۍ لپاره میلمه کړی و، هغه په لندن او فرانس کي د ځوانۍ شپې ورځې تېرولې، هغه په ډېر ویاړ سره د نړۍ په ګوټ ګوټ کي قانون تر پښو لاندي کاوی، هغه یو ځل د پاریس په "shanzelize street " باندي موټر په ۱۳۰ کېلومټر تېز رفتار کي تېر کړ چي ټوله اروپایي نړۍ یې حیرانه کړه. او د پاریس ښاري دولت د هر څومره کوښښ سره سره ونه توانېدی چي لږ تر لږه یې جرمانه کړي. دا سړی د خپل هیواد د "investment authority"مشر و، د پانګې اچوني دغه دولت دومره واک درلود چي د نړۍ په هر هیواد او هر وخت کي یې تر لس بیلیونه "10$ billion"پوري سرمایه ګذاري کولای سوه، او دا ډېره غټه خبره وه.

د داسي نوم او درنښت درلودونکي ژوند څښتن چي د ۲۰۱۱ کال د نومبر د میاشي پر ۱۹ نېټه په کومه خیرنه او بوینه ښرۍ کي ونیول سو، دا ځوان سیف الاسلام نومېږي، دی په نړۍ کي پر دریم نمبر په تیلو د شتنمن هیواد لیبیا د پخواني واکمن کرنل قزافي زوی دی، نوموړی د قزافي ځای ناستی او د لیبیا ولي عهد و، دی په خپل وخت کي د لیبیا دوهم بااثره سړی و، دی دومره اغېزناکه او واکداره کس و، چي کرنل قزافي یې د"نیوکلیئر " پروګرام په پرېښودولو باندي قائل کړی و.

سیف الاسلام دا مهال د لیبیا د واکمن دولت په زندان کي دی، او تر مرګ ستونزمن ژوندورباندي تېرېږي. هغه سیف الاسلام چي یو پښه به یې په لیبیا او دوهم پښه په لندن یا فرانس کي پرته وه، د چا لپاره چي به د فرانس سترو کمپنیو ځانګړي عطر جوړول، دا هغه سیف الاسلام دی چي څه موده وړاندي به یې د برتانیې د هیواد شاهي کورنۍ خاصي میلمستیاوي کولې، مګر نن په ټوله نړۍ کي هیڅ داسي هیواد نسته چي هغه ته پنا ورکړي، هغه سیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

الاسلام چي د لندن او فرانس په مشهورو او ګرانه بيه خوړنځايونو کي ځانګړي خواړه ورته پخېدله، نن يې ديوه وخت ډوډۍ په ډېره سخته په نصيب کېږي، هغه سړی چي په يوه لحظه کي يې په لس ميليونه پونډز باندي يو کور رانيولای سوای، نن د سر پنا لپاره د کوټې چت نه لري، د چا چي تر پرونه ميليونران خلک انډيوالان ول نن په زهرۍ او خواستۍ فريادونه کوي خو هيڅوک د خبري اورېدولو او مرستي کولو نه لري، سيف الاسلام له اسمان څخه پر مځکه را لوېدلی دی، او پاچاهي يې په فقيري بدله سوې ده. ځکه هغه خلک چي الله هېروي او پر ځان باندي د خدای خيال کوي، نو پر داسي خلکو باندي يوه نه يوه ورځ د الله غضب را لوېږي، او بيا يې هيڅوک نه سي ژغورلای.

داسي واکمنان چي واک هر څه ګڼي او د اقتدار په نشه کي دومره ډوب سي، خيال کوي چي زما واک او دبدبې لره هيڅ زوال نسته ، زما د واک لمر به د خيال پر اسمان همداسي ختلی ولاړ وي او زما د تقدير ستوری به د تل لپاره ځلېږي. نو داسي واکمنانو او زور واکانو ته د سيف الاسلام کيسه په چيغو چيغو وايي: څوک چي د ولس باور او احساس له لاسه ورکړي او پر خپل ځان باندي د خدای خيال وکړي دا کسان به يوه نه يوه ورځ له داسي دردناکه، بې چاره، زليل او بې وسه سر نويشت سره مخامخ کېږي.

3

يو ټيکسي چلوونکی سعودی کيسه کول چي له رياض نه مې دمام ته څلور ځوانان سپاره کړل د ټيکسي ډريور وايي دا څلور واړ ښه په سور کې نه وو مست ځوانان وو او مجلس يې هم بې سوره وو دی وايي په لار کې د تيلو اچولو له پاره ودريدلم اود مازدګر د لمونځه وخت وو هم و تيل مې واچول وروسته مې ځوانانو ته وويل :که مو خوښه وي د مازدګر لمونځونه به وکړو؟ خو ځوانانو ځواب هېښوونکی و !زماځنکه ته ناست ځوان په دوی کې ليږ م شر و او داسی ښکاريده چې د دوی د سفر مشر هم دی شاته يې خپلو ملګرو ته وکتل وروسته يې زما د لمانځه کولو د پوښتنې په ځواب کې راته وويل :مونږ خو لمنځونه نه کوو..
ټيکسي ډريور وايي :زه حيران شوم چې دا څه وايي داسې مسلمانان هم وي چې لمانځ نه کوي !ورته ومې ويل : يارانو !دا منم چې تاسو ځوانان يئ .هر څه به کوئ خو لمونځ بايد هيحکله پرېښږدو له الله سره داړيکوهمدا يوه لاره راپاته ده دا لاره بايد هيڅکله ونه ترو او لمونځ خامخا بايد وکړو.ټيکسی ډريور وايی :ځوانانو پخپلو کې يوه بل ته وکتل او زما څنګ ته ناست مشر يې راته وويل سمه ده څه چې لمنځونه وکړو،لمنځو ته ښکته شوو،اودسونه مو وکړل او زه د لمانځه دامامت له لپاره مخته شوم څلورو واړو ځوانانو اقتدا راپسي وکړه مسافرانه دوه رکاته لمونځ اوسلام مې واړوه چې مخ مې را وګرځاوه هغه مشر يو يې لا په سجده پروت و.
مونږ ټول ورولاړ شوو چې ځوان مو وښوراوه له حرکته لويدلی و او مهربانه الله ته يې روح سپارلی وه !ملګري يې سخت خپه او ټول په ژړا شول او يوه ملګري يې زيات ژړل، وروسته هغه ماته وويل چې دا زما مشر ـ ورور دی او باور وکړه چې دا پنځلس کاله کيږي چې لمونځ يې نه وکاوه !خاتمې پټې اونامعلومه دي، په مرګ هيڅ باور نشته، او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مومن باید دهر لمانځه په مهال په دې فکر وي چې شوني ده دا يې وروستی لمونځ وي لکه په يوه حديث کې راغلي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يو سړی راغی ورته ويې ويل :يارسول الله !په لنډه توګه مې پوه کړه، هغه ورته وويل :چې کله لمانځه ته لاړ شې داسې لمونځ کوه لکه همدا دي چې ورستی لمونځ وي ] .عن أبي أيوب رضي الله عنه قال :جاء رجل الى النبي صلى الله عليه وسلم ، فقال :يا رسول الله، علمني وأوجز، قال :اذا قمت في صلاتك فصل صلاة مودع .رواه احمد و ابن ماجه [.الله مو دی لمونځونه د سترګو يخوونکي وګرځي او الله دي زموږ خانمې په ايمان او ښواعمالو کړي.

4

يوه ورځ يو سړي خپل مريی بازار ته را وستی ددې لپاره چې خرڅ ئې کړي نو ږغ يې وکړ !چې زه خپل مريی خرڅوم ډېر ښه مريي دی خو يو عيب لري هغه دا چې چغلګر دی .يو سړي د خپل ځان سره فکر وکړ چې راسه دا مريی رانيسه دا دومره عيب نه دی نو ورغلی ؛ هغه مريی يې ځني رانيوی د ځان سره ئې خپل کور ته بوتلی.

مريي د نوي مالک سره کار شروع کړ؛ څه وخت يې خورا ښه کار او ښه خدمت وکړ؛ د څه وخت په تيرېدو سره بيرته هغه خپل عادت پيل کړ.
لومړی ورغلی د خپل مالک مېرمنې ته يې وويل :ستا خاوند د بلې ښځې سره اړيکې لري غواړي چې ډېر ژر واده ورسره وکړي او تا پريږدي؛ زه تا ته دا خبري د دوستۍ په موخه کوم زما خبري دي ستا سره خوندي وي چاته يې بيان مه کوه .ښځې چې د مريي خبري واورېدې ډېره نا ارامه او خوا بدې سوه د څه وخت په تېريدو سره مريي د خپل مالک ښځې ته وويل چې زه تاته يو نسخه درښيم دا کار وکړه ستا خاوند به بله ښځه پريږدي .ښځې ورته وويل چې دا خو ښه خبره ده ونيسه راته وې ښيه ؛ مريي ورته وويل کله چې دي د شپې خاوند بيده سي نو چاقو راواخله د ږيري وريښتان يې يو څه ور پريکړه ؛ او د ځان سره يې وساته، بس دا کار وکړه خاوند به دي نوري ښځې پريږدي يوازې به ستا سره ژوند کوي.

ښځې ورسره خوښه کړه چې دا خو بيخي اسانه کار دئ ؛ د ا کار خو بيخي په اسانۍ سره کولای سم؛ مريي چې ښځې ته دا خبره وکړه دستي راغلی خپل مالک ته يې وويل :اې باداره !ستا مېرمن د نوروسره ناروا اړيکې لري اوس غواړي چې ډېر ژر پر تا باندي مرګونې حمله وکړي تا ووژني او خپلې اړيکې د هغو سره نوري پياوړې کړي، مريي زياته کړه چې زه ستا د خواخوږۍ په موخه دا خبري کوم زما خبري رښتيا دي هيڅ درواغ پکښې نسته که ته زما خبري نه منې نو ته نن ماښام ځان پر خوب واچوه مه بيديږه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازي په ښکاره ځان بيده وښيه تـه بـه ووينـې چـې سـتا مېـرمن بـه پـر تـا چـاقو راواخـلي او بـل کـار دا وکـړه چـې زما حال پټ وساته چاته مه وايه چي دا خبره ده را ته ويلې ده.

مالـک چـي د مريـي خـبري واوريـدي ډېـر خوابـدي سـو؛ کلـه چـي ماښـام سـو ده ځـان پـه ښـکاره پـر خـوب واچـوئ، مېرمنـي يـي لـږ څـه وخـت انتظـار وکـړ کلـه چـي يـي يقـين سـو چـي سـړی بيـده دی نـو چـاقو يـي را واخيسـتی خاونـد يـې د سـترګو تـر کونجـانو ورتـه وکتـل ژر وغورځيـدی تـر مـټ يـي ټينګـه کـړه او ورتـه ويـي ويل :تـه غـواړې مـا ووژنـې؟ نـوري خـبري يـي نـه وکـړې دسـتي يـي چـاقو څنـي واخيسـتی مخکـي تـر دې چـي ميرمن يي يوڅه ووايي په هغه چاقو يې خپله ميرمن مړه کړه

د ښځي قريبان چي خـبر سـوه هغـو راوځغسـتل بـې پوښـتني يـي پـرده بانـدي حملـه وکـړه وې واژه .لنـډه دا چـي دواړو کورنيو يو پـر بـل بانـدي حملـې پيـل کـړې او تـر مـنځ يـي لويـه جګـړه وموښـته دا ديـوه مريـي د چغلګـرۍ هغه بده پايلـه وه چـي پـه دنيـا کـي يـي خلګـو تـه ورسـول همـدا وجـه ده چـي چغلګـري کـول سـتره ګنـاه ده هـر مسلمان بايد په کلکه ځان څني وساتي.

5

لومړۍ نړيواله جګړه کې يو سرتيري، خپل قوماندان ته داسې وليکل !

ښاغلی قوماندان صيب!

خپله وسله مې تر خاورو لاندې پټه کړه ، نور نه جنګيږم ،او دا پرېکړه مې نه د مرګ له ويرې

او نه هم د خپلې مېرمنې ، زوی او لور دمينې له کبله کړې! ،که راځخه وپوښتې؟ وروسته تر هغه چې د دښمن يو سرتيری مې مړ کړلو نو

وروسته مې د هغه جيبونه وکتل او يو عجيبه پېښې سره مخ شوم، هغه داچې،

د يوه کاغذ پر مخ چې په وينو ککړ وو داسې ليکل شوي وو:

پلارجانه !د کومې ورځې نه چې تا زه يواځې پرې ايښي يم ، هر سهار تر لمر لويدو پورې د خپل کور د وره مخې ته ناسته يم او ستا د راتلو لارې څارم،

په خدای قسم دا ځل که راغلې ، نو غير کې به دې ټينګ نيسم او بل ځل دې نه پرېږدم چې جګړې ته رانه ولاړ شې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو قوماندان صیب !ما دهغې ماشومې لورکۍ پر وړاندې یو نه ښښونکې ګناه تر سره کړه،

ما هغه ماشومه د تل لپاره په یوه خیالي انتظار کې پرېښوده،هغه به تر کله ناخبره د خپل مړ شوي پلار د راتګ لارې څارې،او ترکومه به هره ورځ د خپل پلار د راتګ په انتظار کې تر لمر لویدو پورې انتظار کوي.،نو !ورته برخلیک زمونږ په ګران هېواد افغانستان کې هم روان دی،

چې بې ګناه خلک په کې وژ ل کېږي او معصوم ماشومان د تل لپاره دپلار له مینې څخه بې برخې کېږي.

6

یوه ملګري کله چې دې خپل ملګري جنازه ولیده په خندا شو.

سپین ګیری ورته وویل بچیه سړی په جنازه نه خاندی

هلک چې سترګي یې له اوښکو دکې شوی وی ځواب یې ورکړ

بابا څه درته ووایم!!..

له زړه مې تورې وینې څاڅي ، خو ملګري راڅخه ژمنه اخستې وه چې کله سره ووینو نو په خندا به یو بل وینو

اودایې هم راته ویلی وو چې کله مړ شوم نو په خندا به زما

خواته راځي ځکه چې هغه وخت به هیڅوک هم نوی چې ستا اوښکې پاکې کړی ښه ملګري دې ژوند ریښتنې سرمایه ده په ژوند یې قدر

وکړی خاص دالله ج درضاپه خاطر ورسره ملګری وکړی دروغ مه وایې چل ول مکوی ځان په ملګري لوړ مه بولي او دانسانیت اخلاقو نه یې استفاده مه کوی انشاءالله ملګري به مو تر آخر دې ژوند پوری وی.

7

یوه ورځ پاچا خپل درې ۳ وزیران دربار ته راوغوښتل ، او ورته ویې ویل، چې هر وزیر یوه کڅوړه درسره واخلئ ، باغ ته ولاړ شئ او پاچا ته ښې رنګارنګ میوې راوړئ! وزیران چې دغه عجیب امر حیران کړل، درې واړه له کڅوړو سره باغ ته ولاړل .ترڅوچې دپاچاامرپرځایکـړي)!

(c) ketabton.com: The Digital Library

( یو وزیر د پاچا لپاره ښې، تازه او مختلفې مېوې راټولې کړې ) .

دوهم وزیر : په دې فکر چې، پاچا خو خپله ټوله میوه نه ګوري، چې څه فرق سره لري؛ نو له تازه او خامو مېوو څخه یې خپله کڅوړه ډکه کړه

دریيم وزیر چې ډېر ناپوه و، له ځان سره یې وویل چې، پاچا به یواځې ډکې کڅوړې ته ګوري او دې ته به نه ګوري، چې په منځ کې یې څه دي؟ په دې یقین یې خپله کڅوړه له وښو، پاڼو او نورو وړو خاشاکواولرګو څخه ډکه کړه، ځان یې له ستړیا څخه بچ کړو او خپله ډډه یې ووهله.دوهمه ورځ له امر سره سم درې ۳ واړه له ډکو کڅوړو د پاچا دربار ته حاضر شول .پاچا د کڅوړو له کتلو پرته سمدستي امر وکړ، چې دا درې وزیران د یوې میاشتې لپاره په یوه لرې زندان کې بندیان کړئ.همداسې وشول، له دوی سره په کڅوړو کې، له را ټولو شوو شیانو پرته، د خوراک لپاره نور هیڅ نه و.اوس نو اول وزیر، چې ښه میوه یې ټوله کړي وه، ټوله میاشت یې په هغه میوه ګزاره کوله او میاشت ښه په اسانی پرې تېره شوه .،دوهم وزیر چې تازه، خامه او پخه میوه یې راټوله کړې وه، له سخت مشکل سره مخ شو، څو ورځې یې تازه او پخه میوه وخوړه او ګزاره یې پرې وکړه؛ خو وروسته خامې او خرابې میوې ته مجبور شو، چې خوړلو یې ناروغ کړ او په سختو تکلیفونو کې یې میاشت تېره کړه.دریم وزیر چې بې ثمره واښه پاڼې اوخاشاک یې په کڅوړه کې راټول کړې وه ، د خوراک لپاره ورسره هیڅ نه و؛ نو له څو ورځو وروسته مړ شو ،.اوس نو له خپل ځان څخه سم وپوښتئ، چې تاسودحقیقی مالک اوپاچالپاره څه شی ټولوئ؟تاسې اوس په هغه باغ کې ژوند کوئ، چې نېک او بد عملونه دواړه ټولولای شی؛ خو په یاد ولرئ، هر کله چې د پاچا حکم صادر شو، نو خپلې بندیخانې) قبر (ته به موسمدم ور واچوي ،.په دې بندیخانه کې به یواځې تنها یاست، تاسې سره به صرف یواځې ستاسې له اعمالو څخه ډکه شوې کڅوړه موجوده وي ؛ هر څه مو چې راټول کړي وي ، همغه به مو پکار شي . اوبسنو همدا نن کوښښ وکړئ، ځانونه ستړي کړئ، ښې او تازه مېوې) نېک عملونه (راټول کړئ؛ تر څو چې هلته ارام او هوساپه خوشحالی سره اووسی

8

وائي، چې حضرت داود) ع (د خپل کار په ځای کې یوه ورځ په کار مشغول وو چې ناڅاپه یوه ښځه راغله او له سلام وروسته یی له حضرت داود) ع (څنی وپوښتل چې!

ایا ستا خدای) ج (عادل دی او که ظالم؟
حضرت داود) ع (ورته وویل چې زما خدای عادل دی او هیڅکله ظالم ندی.
لدې سره ښځې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه یوه کونډه ښځه یم او کوچني یتیمان ماشومان په کور کې لرم، هره ورځ د غاړې دستمالونه په کور کې جوړوم او په بازار کې یې پلورم او په پیسو یې خپلو بچیانو ته نفقه برابروم.

خو نن چې کله د بازار په لور روانه وم په لاره کې ناڅاپه یو هوایي مارغه راغئ او زما دټکري ځنې چې پرسر مې ایښی و، د دسمالونو ټول پنډوکی یووړ او خالي لاس کورته راغلم.

ښځې لا خبره خلاصه کړې نه وه چې دروازه ټک ټک شوه، حضرت داود) ع (ورته د ننوتلو اجازه ورکړه، گوري چې لس کسان تجاران راننوتل او هریو سل دیناره دحضرت داود) ع (په مخ کې کیښودل او ورته یې وویل چې داپیسې ضرورتمندو ته خیرات ورکړی، حضرت داود) ع (ترې پوښتنه وکړه چې خیریت دی، ټول لس کسان او هر یو سل دیناره خیرات ورکوی څه خبره ده؟

تجارانو وویل چې په سمندر کې یې په کشتۍ کې سفر درلود چې د کښتۍ یوه تخته ماته شوه او اوبه را پورته شوې، مونږ ټولو د الله تعالی حضور ته سوالونه وکړل چې که ددې طوفان ځنې ووځي نو هر یو به سل دیناره نزر ورکوي، تجارانو وویل چې د اسمان په طرف مو کتل چې یو مارغه راغئ او یو پنډوکئ یې په کښتۍ کې را وغورځاوه.

چې کله مو پنډوکئ خلاص کړو پکې دسمالونه وو او په هغو مو دکښتۍ تخته وتړله او له طوفان ځنې وژغورل شوو.

حضرت داود) ع (کونډې ښځې ته مخ واړو او ورته یې وویل چې زما الله ستا په دسمالونو ددوی ژوند وژغوره او د دریاب په منځ کې یې ستا د نفقې غم هم وخوړ.

څنگه دومره ستر رب) ج (ته ظالم ووایو؟

9

ماته خو ډېره جالبه کیسه ده، ځکه مې له تاسو سره شریکه کړه. پۀ هره دنده یا وظیفه کې کار کونکی ناست وي او گټه اخیستونکی ولاړ وي،مگر یؤاځې ښونکی دی چې هغه ولاړ وي او گټه اخیستونکی ناست وي!.

دا ماشوم یې چې غیږ کې اخیستی دا د پوهنتون استاد دی،خو دا ماشوم د دې استاد زوی نه دی، دا د پوهنتون د یؤي محصلي زوی دی،ماشوم ژړل د دې پر ځای چې محصله لۀ ټولگي اوباسي او یا ورته ؤوایي چې:

دا درس پرېږده استاد خپله ماشوم واخیست تر څو یې مور پۀ آرامه درس ؤوایي،خو ماشوم د استاذ پۀ ولي ویده شو

مشري تکلیف دی تشریف ندی!..

(c) ketabton.com: The Digital Library

10

ددې کيسې ليکوال وايي :په يوه بازار کې ماته يو چرسي راغی او راته يې وويل، چې د چرسو لپاره لږې روپۍ راکړه.

ما ورته وويل چې، راشه خوراک درکوم؛ خو د چرسو لپاره روپۍ نه درکوم.

چرسي راته وويل چې، رزق ورکونکی بل دی، که د چرسو لپاره روپۍ راکوې، راکړه کنه لاړم درنه.

ما يو څو روپۍ ورکړې او چرسي روان شو، زه هم ورپسې روان شوم.

يو ځای کې واده وو يو سړي غټ پتنوس کې وريجې رواني کړې وې چې، پتنوس ترې وغورځېدو او وريجې ترې په ځمکه ولوېدې.

چرسي ورته کښيناست چې، خوراک يې شروع کړ؛ نو زه يې وليدم،

ماته يې يوه جمله وويله چې، هغه جمله به زما ټول عمر په ياد وي،

راته يې وويل چې، دا وخت مې الله تعالی سره اړيکې خرابې دي، کنه نو ماته به يې په لوښي کې رزق راکوه؛ خو زما رب دومره مهربان دی چې، له چا څخه خفه هم وي، بيا يې هم ورته نشي ليدلی.

11

يوه ورځ مرگ ديوه سړی څنگ ته ورغی ورته ويی ويل نن داخيری ورځ ده

سړی ورته وويل چه زه نه يم تيار

مرگ ورته وويل نن ليست کی لومړی نوم ستا دی

سړی وويل سمه ده

مخکی له دی چه ما له دونيا پنا کړی راځه يوه پياله قهوه وڅکو  مرگ وويل سمه ده

سړی مرگ ته قهوه ورکړه اوپه قهوه کی دخوب گولۍ ورکړی اوپه درانه خوب يی ويده کړ

سړی ليست راواخيست خپل نوم يی دليست اخير کی وليکه

مرگ چه له خوبه راپورته شوو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو له سړی یی مننه وکړه او ورته ویی ویل

ددی لپاره چه تامی ډیر قدر او عزت وکړ نن لیست له اخیری خوا پیلوم☹

12

یو انجلی چی نوی تیلیفون یی رانیول

پلار یی چی ورته وکتل

پوښتنه یی وکړه :کله چی دا تیلیفون دی رانیول نو لومړی دی څه په وکړه؟

لور یی ورته وویل :یوه دانه د ضد ضربه هینداره او یو.کاور می ورته رانیوی!

پلار :آیا سوک په زور یره تاته وویل چی دا کار وکړه؟

لور :نه پلاره!

پلار :آیا کله چی تا کاور او د ضد ضربه هینداره ورته رانیول نو د تیلیفون د جوړولو شرکت ته کوم توهین ورسیدل؟

لور :یا پلار جانه بر عکس ټول د تیلیفون جوړولو شرکتونه خپلی وایی چی د کاور او هیندارو څخه کار وخلو!

پلار :نو آیا دا کار دی په دی خاطر ترسره کړه چی ستا تیلیفون دیر زړه او خراب تیلیفون و؟

لور :یا پلاره په دی خاطر می دا کار وکړه چی نغوارم کوم تاوان ورته ورسیژی او که تاوان ورته ورسیژی نو قیمت یی کښته کیژی او بی ارزښته کیژی!

پلار :آیا ستا تیلفون په در کار سره دیر بد خوند او خراب معلومیژی؟

لور :یا پلاره زما په نظر دیر شکلی معلومیژی او که خراب معلوم هم سی په دی خاطر چی د هر خطر څخه په امان دی او تاوان نه ورته رسیژی نه په دی خراب معلومیدل ارزی!

پلار په مینه مینه ی خپل لور ته کتل

او بیا یی ورته وویل :آیا پوهیژی لورمی چی ستا حجاب هم د همدی کاور او هینداری په شان دی!

(c) ketabton.com: The Digital Library

13

خبریال کیسه کوي چي فیډل کاسترو د هاوانا په کوڅو کي د شپي لخوا په یوه سر لوڅي جیپ کي د خپل یوازي یوه ساتونکي سره ګرځېدئ .ما پوښتنه ور څخه وکړه چي تر سل واره زیات د سي ای اې او ام ای سیکس له لوري ستاسي د وژلو هڅه سوې ده، خو بیا هم تاسي د یوه ساتونکي سره په سر لوڅي جیپ کي ګرځئ، ولي؟ ده په جواب کي راته ویل، هغه مشران بېرېږي چي د خپلو خلګو سره یې خیانت کړې وي، ما د خپلو خلګو سره خیانت نه دی کړی، له دوی څه را پورته سوی یم او د دوی د آزادۍ لپاره مبارزه کوم، ځکه خو د دوی په منځ کي تر ټولو ډېر ساتل سوی او محفوظ هم یم، خطر هغه مهال ډېر راته متوجه وي چي له دوی څخه لیري سم.

14

د یوه ځوان زړه یو دم بي حرکته شو ، کله یې چي روغتون ته ورساوه ، د ۲۴ ساعتونو لپاره یې اکسیجن ورکړ ، بیرته چې ځوان جوړ شو ، ډاکټر ورته د ۵۰۰ ډالرو بیل ونیوې ، ځوان د بېل په لیدو وژړل.

ډاکټر ورته وویل :ژاړه مه ، که پیسې نه لرې ، ژوند مو تریخ او ناچاره وې ، نو نه یې غواړم؛

ځوان وویل :د پیسو مشکل نشته ، الحمدلله هر څه لرم

او کولی شم ، ستاسو پیسې درکړم . ډاکټر وویل : مشکل څه دي ، ولی دي وژړل . ځوان وویل : ځکه مې وژړل ، چې ستا فقط د ۲۴ ساعتونو پر اکسیجن ۵۰۰ ډالر راغلل ، خو ما چې په کلونو کلونو همدا اکسیجن د الله تعالی په مهربانۍ او فضل سره مفت اخیستی دی ، اوس زه پوه شوم چې زه څومره ناشکره او رښتیا ستر پوروړی یم.

15

یو سپین ږیري مات سوي بادام د رسول الله ﷺمخي ته کښېښول، رسول الله ﷺبه د هر بادام په خوړلو سره یو ځل سپین ږیري ته وخندل او د سپین ږیري پر خوله به سپین بریت موسکي سول، رسول الله ﷺته اصحاب کرام په تمه وه چي، اوس به دوی ته هم ووایي چې، راسئ بادام وخورئ؛ خو داسي ونه سول.

سپین ږیری ولاړ او اصحاب کرامو وپوښتل چي، یا رسول الله ﷺمخکي به دې هر شی موږ سره شریکوه؛ خو نن دې ږغ ونه کړ!

خبر یاست چي، رسول الله ﷺڅه وفرمایل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسول الله ﷺ ورته وویل :بادام بیخي ترخه وه، که له تاسي څخه یوه هم تریخ بادام تو کړی وای؛ نو د اخلاصمن سپین بږیري خندا به په غم بدله سوې وای.

16

**خداي ج مهربانه دی «د بزګر او بادار تر منځ لنده کیسه»!**

یو بزګر له یو مالداره سره بزګری شروع کړه. شپې او ورځې دي تیرېږي او بزګر چي ډیر صادق ریښتیني او د ښو اخلاقو څښتن وو. او خپل کار به یې په ډیره صادقانه توګه کولو او مالدار هم ورنه تر ډیره راضی وو. ددواړو تر مابین ژوند دی تیریږي... د بزګر زیات وخت تیر شو خو ده دا خپل د کار مالک یا دا مالدار په عبادت کولو تر اوسه نه دی لیدلې .بله ورځ یی له ځان سره دا هوډ وکړ چي یا به کار پریږدی او یا به هم دا مالدار په عبادت کولو را بولي.

وروسته نو بزګر به چي کله د الله تعالې عبادت کاوه نو له بادار نه به یی هم د عبادت کولو غوښتنه کوله چي راشه د الله ج عبادت وکړه او لمونځ وکړه خپله غاړه دی خلاصه کړه.
مالدار به ورته ویل چي ته مو پریږده!

الله تعالې مهربانه دي........

هر ځل به چي مالداره ته دی بزګر له طرفه د عبادت کولو دعوت کیده د مالدار سړي ځواب به معلوم وو.

ته مو اوس پریږده! خداي ج مهربانه دي.....

او همیشه به یي همدا یوه خبره کوله چي خداي ج مهربانه دی......

وخت دی تیریږي د غنمو د کښت کولو وخت راورسید بادار خپل بزګر ته امر وکړو چي سبا ته به په پلانکي ځاې که غنم کښت کړي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بزګر ورته وویل: په سترګو ولي نه بزګر لاس په کار شو تر څو تخمونه سره آماده کړي. بزګر د غنمو پر ځاي د جوارو تخم یوړو او کښت یی کړ او راغي بادار ورته وویل غنم د کښت کړل! بزګر وویل: هو

څه موده وخت تیر شو او مالداره بزګر ته وویل راځه چي هغه غنم وګورو چي څنګه به شوي وي. بزګر ورته وویل: راځه او روان شول کله چي هلته ورسیدل مالداره ګوري چي د غنمو پر ځاي جوار راپورته دي. او ویی ویل: دا خو جوار دي او بزګر ته په قهر شو ورته یی وویل چي ما تاته نه وو ویلي چي غنم کښت کړه. نو تا بیا ولي جوار کښت کړي.

بزګر ورته وویل چي خداي ج مهربان دي......

غنم به شي.

مالدار ورته وویل: چي خداي ج خو زه هم وایم چي مهربان دي خو داسي نه چي ته جوار کښت کړي او بیا ورنه غنم غواړي.

بزګر ورته وویل چي ټول عمر مي درته ویل چي راشه لمونځ وکړه راشه عبادت وکړه تا به ویل چي خداي ج مهربان دي.....

نو ته هم د ځان لپاره یو څه کښت کړه چي الله ج یي تاته حاصل درکړي.

ګرانو مسلمانانو ورونـو دوه ورځې ژوند دي زیات کوښښ وکړي چي د خپل آخرت لپاره یوه څه کښت کړي تر څو مو حاصل ګل او ګلزار شي.

17

غوښه

ساحل منګل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دروازې له خلاصیدو سره سم مې د انګړه پر لوري قدمونه واخیستل. کمه شېبه مې د کور جوړښت تر سترګو تېر کړ او کتل مې چې څو خونې لرې، په انګړ کې څخه پراته دي او کوم هغه څه دي، چې د سړي پام ور اوړي.

په کرار – کرار مې قدمونه اخیستل او د کور په جوړښت مې فکر کاوه، چې بې پامه مې پښه د یوې وړې کندې په څنډه کې وښویده. د لینګي یوه برخه پوستکی مې وسولیده او لږ شان مې د شرم احساس هم وکړ. که څه هم د درد احساس مې وکړ خو ځان مې داسې ونیو، چې هیڅ هم ندي شوي. د کور ښځې هم زما په لوېدو خپله همدردي ښکاره کوله خو ما دغه خبره بیخي عادي ونیوله.

زه هم د خیریه ټولنې له هغو رضاکارانو څخه وم، چې په کلیو او بانډو کې مو له بې وزلو سره مرسته کوله. ښځه مخکې، ماشومان ترې تاو او زه ورپسې شوم،تر څو یې د کوټې مخ کې چوتره کې په غوړول شوې درۍ کینولم. له معمول سره سم مې له ښځې څخه د خپل ژوند احوال وپوښت، چې څه حال لري، تر کومې کچې بې وزله دي او زمونږ مرستې به ددوی په ژوند کې څومره ګټورې پریوځې.

ښځې د خپل ژوند کیسه داسې پیل کړه:
له ما چاپیره درې هلکان او یوه یو کلنه لور مې چې ګورې زما په شمول همدغه پنځه کسه یو. کلونه کلونه کېږي چې اقتصادي وضعیت مو ښه نه و، خو څو میاشتې مخکې مې خاوند په ښار کې له یو چاسره کار پیداکړی و، دوه ورځې کار یې وکړ په دریمه ورځ چې له کوره ووتلو مشوره یې راسره وکړه ،چې نن له هغه کس څخه چې زه کار ورسره کوم څو پیسې اخلم. ډېر وخت کیږي، چې غوښه مو نده خوړلې، غوښه راوړم او څه اندازه به کچالو هم راوړم.

په همدې خبرو او مشورو مې خاوند له کوره ووت. د ماسپښین دوه بجې به وې، چې دوازه ټک- ټک شوه، پنځه کلن زوی مې دروازې ته ورولېږه خوبېرته یې له دوازې رامنډې کړې. زوی مې له خوشالۍ په جامو کې نه ځایده، ویل ابې! درې سړي راغلي یوه لویه خلته یې له غوښه یې راوړې ده وایي مور ته دې غږ که چې دا یوسې. مورې! غوښه درنده ده زه یې نشم راولی ته یې راوړه .

زه هم حیرانه ودرېدم، چې دا کوم سخي پیداشو چې یوه خلته غوښه یې مونږ خوارانو ته راوړې. د دروازې پر لوري مې ګړندي ګامونه پورته کړل تر هغه چې دروازه مې خلاصه کړه .

ستړي مشئ! تاسو څوک ؟
دریو واړو داسې حالت لاره چې ماسره د خبرو کولو ته یې زړه نه ښه کاوه. خو له رنګه پوخ سړی چې عمر به یې له پنځوسو اوښتی و رانږدې شو او غاړې یې تازه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورې! د خدای چې څه خوښه وي، مونږ اوتاسو باید د هغه رضا ومنو او که مو ونه منله خدای به راته نور هم په قهر شي،ستا خاوند د ښار په ننني موټر بم کې په حق رسیدالی، دهغه د بدن هغه برخې مو راټولې کړې، چې مونږ څه ناڅه وپیژندلې، دا هغه خلته (پلاستیک) دی چې ستا د خاوند غوښې مو پکې راوړلې.

په بدن کې مې څرېکې شوې، سر راباندې تاو شو، حواس مې له لاسه ورکړل او د یوه لیوني په څېر مې په ځان خولې ولګولې. د خاوند مرګ ، بیا داسې مرګ داسې شولکه ټوله دنیا مې چې پر سر راغورځېدلې وي .

نه پوهېږم چې په هغه شېبه کې به پر ما او بچیانو به مې څه تېر شوي وي، خو زه داسې څوک وم، چې په ټول ژوند مې چندانې خوشالي نه وه لیدلې، له هر ډول درد او غم سره بلده وم او له ځان سره مې وویل چې د خپلو بچیانو لپاره هم باید خپل حواس پر ځای کړم.

په دې شېبه کې نه وم پوهېدلې چې څومره وخت به وتلی وي،خو هغه کسان چې (پلاستیک) یې راوړی و له دروازې تللي وو. (پلاستیک) مې راواخیست ومې نه کتل چې زما دخاوند د بدن کومې کومې برخې به یې پکې اچولې وي. دومره مې وکړل چې ددروازې رادېخوا یې په هغه کیندل شوې کنده کې یې واچوم چې تېر کال مو وچ شوی نیالګی ترې کاږلې وه او هغلته مې یو څو بېلچې خاوره پرې واړوله.

ښځې دغه کیسه په داسې ډول کوله ته به وایې چې د خاوند له مرګ اوس خبرېږي او هغه صحنه په حقیت کې ګوري. سترګې یې پاکې کړې او هغه کندې ته یې لاس ونیو او وي ویل: ته چې له دروازې راننوتې او پښه دې وښویده هماغه مې د خاوند قبر وبوله.

اوس نو ته ووایه چې په داسې حال کې به مو ژوند څنګه وي؟ وړه لور مې اوس هم د پلار له مرګه نده خبره، پنځه کلن زوی خو لا داهم راته وایي، چې مورې سخته بخیله یې هغو کسانو چې غوښه راوړه په کنده کې دې واچوله خو مونږ ته دې پخه نکړه.

18

یوازې یوه شمـــــــــــــیره ! (لنډه کیسه)

لیکونکی : خالق رشید

(c) ketabton.com: The Digital Library

دزاړه میزپرسرمې ایښې وړه کتابچه سر دری ځلویښت کلنه شوه ، وړه کتابچه ده ، دری ځلورځلې مې سره ګنډلې اوصحافي کړې ده، دا زما دتلیفون دشمیرو کتابچه وه...چې زما د ډیرونږدې ملګرواو دوستانو شمیرې په کې په منظمه اوښکلي خط لیکل شوې وې ...

هغه ملي، چې دکابل جنګونه پیل شول اوموږ هم له کابله په تیښته تیښه دباد وزرشوو، له ډیرې بدې ورځې داهم په کابل کې راځخه پاتې شوه، کابل انجنیرصاحبانواوددین پتنګانوړنګ کړ، طالب یارانو بیا د پولی پړک ته کیناوه، امریکایانودخپلو لوړپوړو ودانیود غچ په خاطردا بی ګناه ښاردټلوالې بدمستانوپه نغوته په لویولویو بمونو وویشت... اوپه وینویې ولاړه ...

خو کابل مړنه شو، کابل له سختواو بدو ورځو وروسته بیا سرراپورته کړ...له هغوبدوشپوورځوچې چا یې کله هم فکرنه کاوه... زموږ یوځل بیا یادونو اوکتابونو ته ورپام شو، که څه هم زموږ مساپري د هاتي کولمه شوې وه ، خوپه دې دومره اوږده موده کې باوروکړئ چې دکابل یادونه او کتابتونه مې یوه ورځ هم له یاده و نه وتل، میرمنې به مې تل ددغویادواوارمانو لړی په یوه لنډه جمله کې را لنډه کړه :

ـ کابل وران شو، زرګونه بې ګناه ککرې په کې په وینو ورنګیدې ...اوته لاهم د یادونواو کتابونو په غم کې یې ...

داخبره به مې چې واوریده په ریښتیاهم ځان به مې غلی ونیواوپرخوله به مې لاس برغولي کړ، له ځان سره به شوم :
-هو، ریښتیا، کابل وران شو او زه لاهم ...

ریښتیاخبره خوداوه، کله چې موږ له وطنه په وتلو ناچارشوو، هرڅه مو له یاده ووتل، له نژدې ګاونډیوسره موهم نه ولیدل اونه موله یوه اوبل سره خدای پاماني وکړ، جګړه دومره خونړۍ شوې وه چې په یوه کوڅه اویوه زینه کې له یوه اوبله ورک شوو، دیوه اوبل پتې هم راځخه ورکې شوې... ځکه خوبه په همدغه حال کې موږ دخپلې دغې کتابچې چې په هغې کې د خپلوانواودوستانو شمیرې وې افسوس کاو اوتل به مو په دریغ سره دا یادوله :

-کاشکي مو دشمیرو کتابچه له ځان سره راوړې وای ... کاشکي چې هغه خومولا یاده نه وای وتلې ... اوداهغه کتابچه وه چې په هغې کې زموږ دټولو یارانو دوستان شمیرې له کلو راهیسې خوندي وې ، ډیره پخوانۍ شمیره په کې زما د لومړني دورې د ټولګیوال دکورشمیره وه ، دوحید مومند ... ۳۰۹۱۵ ... هغه چې تراوسه یې هم مړی اوژوند راځخه ورک دی ... هو، داشمیره تراوسه هم زما په یاد ده ... په یاد ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواوس له کلونو وروسته موږ ټولو ته دا څرګنده شوې وه اوله هرڅا مواوریده اوریده ...
ـ کابل مړنه شو... کابل مړنه شو ...
اوکابل یوځل بیا د خپلو ورانو اوکنډرکنډرکنډوالوله سختواو بدو ورځو وروسته په خاوراو وینو لړلی زخمي زخمي سر راپورته اود آشه مایی مور پرلمنه یې دانصاف اوقضاوت په لامل کینښود... خودریغه چې تراوسه هم لاچا انصاف ورسره ونه کړاود ورانی سپین سترګی سرټیټی یې لاهم ځان ته نه نیسي اولایې هم دنورو پرلاس ځوروي اوخوارو ي ...

له اوږدو تیارو وروسته موږ یوځل بیا لکه یو وزي مرغان بیرته له یوې اوبلې خوا ورغبرګ شوو، داسې چې کورونه سوي ول ...غلوهرڅه وړي ول، خویوڅه چې د دوی زورنه و، ورته رسیدلی هغه یادونه اوکتابونه ول ،هغه چې دم ګرۍ تردرنو ګردونو لاندې پټ شوي اوپه ګولیو زخمي زخمي یوې اوبلې خواته پراته وو... تورتم اودهغه ورنونکې څپې د کابل پرټولو کورونو اوګودرنوباندې تیرشوي وې ، زما دکورهم دغه حال و، کله چې مې دکتابتون ماته دروازه له درنوخاورو اوخځولو را واړوله ،دکتابونو الماري ټولې را نړیدلې وې، یوې پربلې یې لکه دکابل بی ګناه شهیدې میندې ساړه سرونه ایښې وو، کتابونه هرې خواته له غیږوتیت اوپرک شوي پراته وو... دلوستنې دمیزدوې پښې ماتې شوې وې، یوازې پردوو نورو ولاړو... دکاغذونواو اخبارونو رنګونه لکه خزان وهلي پاڼي زیړشوي وو، دمیزخانه نیم کښه وه، په سختۍ مې راخلاصه کړه ، هرڅه چې په کې وو ، ټول په خاورو لړلي ول ، راپورته مې کړل، دوړې مې یې یوې خواته کړې ، کتابچه مې مخې ته را وپړکیده .... هو، هم هغه کتابچه، هم هغه دیارانواوخپلوانو دشمیرو اونمروکتابچه... ټول ورته خوشال شوو، زر زرمې یې پاڼې یوې اوبلې خواته سره واړولې، دلومړي مخ شمیرې سمې نه لوستل کیدې، خو لومړۍ شمیره چې زما په یاد وه ، د دریو اونهو ترمنځ صفر یې له منځه تللی و، خو داچې زما په یاد وه زرمې د دریو مخې ته یوصفرکینښود، شمیره مې دایره کړه،خو له هغې خوا به ځواب راغلي :

ـ داشمیره موجوده نه ده ...
زرمې بله شمیره دایره کړه، دهغې له خوا هم خواب راغی :
ـ دا شمیره ګرد سره نشته ده ...
لس شمیرې مې په پرله پسې ډول دایرې کړې، خوله یوې مې هم ځواب ترلاسه نه کړه ، یاره ، شلمه دیرشمه شمیره مې چې دایره کړه زنګ تیرشو اوغږ راغي :
ـ بلي ،
زرمې ځواب ورکړ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ داد ولسوال صاحب کوردی ؟

ـ ته څوک یې ؟

ـ پردیس گل ، د ولسوال صاحب د زوی هم صنفی ...

مقابل لوری راته په غړمبا شو :

ـ و وروره ، زه ولسوال ملسوال نه یم، قوماندان یم ، قوماندان تورتم گل ... دالس پنځلس کاله کیږي، کله چې زه کابل ته راغلی یم ، همدغه زما شمیره ده .... پوه شوې که نه ؟

زرمې ځواب ورکړ :

ـ سمه قوماندان صاحب وبښه چې زه غلط شوی یم ...

همداسې مې شمیرلې دایرولې ، هغوچې ځواب یې نه راکاوه ، او راته ویل به چې : دغه شمیرموجوده نه ده ... هغه به مې په نښه کړې چې گواکې نشته ...

څه سردې خوړوم ، په شمیرو دایرولو باندې ستړی شوم، نه پوهیږم چې څوومه پاڼه به وه ، بیا مې د ولسوال صاحب غني خان شمیره مخې ته راغله، بیامې توکل پرخدای اود زړه زور وکړ، دایره مې کړه چې زنگ یې تیرکړ، یوپنډه غږ ترې راووت :

ـ هلو... بلې...

زرمې پوښتنه ترې وکړه :

ـ دا د مدیرصاحب اسماعیل خان کوردی ؟

ـ اسماعیل خان یې لاڅوک وي ؟

بل چاته یې غږ وکړ :

ـ وهلکه راشه دا غوا دې پریږده دا سړي څه وایی ، ځواب ورکړه ...

یوبل غږ راغی :

ـ بلي ، سلام ،

زرمې پوښتنه ترې وکړه :

ـ دا دوحید دوی کوردی، د ولسوال صاحب غني خان ؟

ـ نه وروره ... دا دمولوی سترجنرال استاد ماشیندارصاحب کوردی ...

و ډارشوم زرمې په خواره ژبه ځواب ورکړ :

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ وبښئ ، وروره ، نه ولسوال صاحب نه مولوی و ، نه جنرال اونه ماشيندار... ښښنه غواړم ...

غوږئ مې کيښوده ، يوشميرخپلوان چې راسره ول ، هغوی ته مې مخ ور واړاوه چې دا شميرې خو يوه هم کارنه کوي اوکه داخلک اوس په دې لوی ښارکې نشته ؟

موږ په همدې کې وو ، چې يو زنګ راغی ، ورته خوشال شوم ، چې ځه که خدای کول يوڅوک خو را پيداشو ، خامخا يې زما شميره ليدلې ده ... کله مې غوږئ پورته کړه واومې وريدل :

ـ تاسې زما شميرې ته زنګ وهلي ، ته څوک يې ؟

ځواب مې ورکړ :

ـ زه پرديس ګل يم د مستوفی امين خان زوی ...

زر يې ځواب راکړ :

دا امريکا سفارت دی ... نورپردغه شميره زنګ ونه وهې ... پوه شوې ؟

غوږونو مې ترنګ آواز وکړ ، اوشيرماما ته مې وويل چې ترسلو زيات زنګونه مې ووهل ، خو ديوه له خوا هم ځواب رانغئ ...

ما ما راته کړه :

ـ خيردی هغوی چې ليدل يې ډيراړين وي ، کورته به يې ورشو ، نورځان په شميرو مه ستړی کوه ، شپاړس کاله ستا په کتابچه تيرشوي ، زياتره هغوی چې له تاسره يې شميرې شته ، هغوی له ښاره وتلي دي... هوډيروخت تيرشوی ... ډيره زما نه تيره شوې ... دلته شميرې بدلې شوې ، څيرې هم بدلې شوې ، کوڅې هم بدلې شوې ، دلته خبره سرچپه روانه ده ، ټول ښار په قوماندانانو اوغلورا ډک شوی ، ډيرکورونه دوی ړنګ کړي اونوريې ورباندې جوړکړي ، ځکه خود اصلی کورخاوند اوس په دغه ښارکې خپل کورنه شي موندلای ... دلته اوس هرڅه بدل شوي... شميرې بدلې شوې اوڅيرې بدلې شوې ....

څوورځې مې همداسې په شميروداپرولو تيرې شوې ، خو له پخوانيودوستانوديوه هم ځواب رانغئ ، ناچارشوم ، کورونو ته يې هم ورغلم ،له بده مرغه چې کورونه يې په کورونوکې ورک شوي ول ، له دې سره سره به مې هم زړه طاقت نه کاوه ، دشپې ناوخته به مې هم شميرې دايرولې ، خو په هغوشميروکی اوس زما ددوستانو غږونه نه اوريدل کيدل ، ډيرو خويي ښه وکنځلم ، ښې سپورې پورې مې هم په کراتومراتو ترې اوريدې اوريدې ...

پرون مازديګربيا زما په تليفون کې شرنګ شرونګ شو ، بيا مې زړه را وهڅيده ، په دې هيله چې کيدای شي دکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوست تليفون وي، په وارخطايي سره غوږۍ غوږته ونيوه :

ـ بلی ، مهربانۍ وکړئ زه ....

دنجلۍ نروچکي غږ و :

ـ ستا له خوا هره ورځ زنګونه راځي .موږ وخت نه درلود چې ځواب مو ووايو... تاسو ...؟

ـ ما بيا خپل غم وهلي نوم ورته ياد کړ او ور زياته می کړه :

ـ وبښې دا مستوفي صاحب کوردی ؟

رانه يې وپوښتل :

-مستوفي يې لا څه شی وي ؟

ـ مستوفی امين الله خان ... دوست مې دی ، همدغه شميره ده،

راته په خندا شوه :

ـ اوس دمستوفيانو، پاچاهانو وخت تيردي ... وايه زړه دې کيږي چې راشې او پته درکړم ...

سخت يې وډارکړم ،غوږۍ مې زر کيښوده ...

ماما را باندې پوه شو، په جدي څيره يې راته وويل:

ـ لا دهم زړه نه دی صبر ... لاهم غواړې چې ... واورې ... هيله کوم، نوره داکتابچه بيرته پرهغه ځای چې دا شپاړس اوه لس کاله هلته پرته وه درنه کيږدې، نورمه شله کيږه ....

رښتياهم، واړې مې سره ختلې وې، کتابچه مې سره واړوله راواړوله، نوره نو داسې شميره نه وه په کې پاتې چې زړه مې ورپسې ختلای وای،خو بيامی هم د وروستي خل له پاره سرترپايه شميرو ته دچا خبره د زړه په سترګووکتل .... ښه مې ورته وکتل، دهرې شميرې ترڅنګ د درنو نومونو په ليدو اولوستو سره مې ترسترګو خدای شاهد دی تياره تياره کيده ... ښه مې وکتله، خويوه شميره هم داسې نه وه چې ما به نه وه دايره کړی...هيچا هم ځواب رانه کړ، يوازې يوڅو ځوابونه

مې چې واوريدل هغه هم ډيرزړه بوږنونکي اودردونکي وو... اونا آشنا...

بس نورنوآرام شوم ... داسې ښکاريده چې نورنوڅوک په زړومينو اوزړو شميرو کې نه ول پاتې ...پخوانيو شميرو ځواب را ته ونه وايه، په سلګونونومونو ډکه زړه کتا بچه کې مې يوازې يوه شميره وه چې زنګ يې تيراوه خو دريغه چا نه پورته کوله ... ؟

پای

د ۲۰۲۰ کال د سامبر ۲۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ليکوال : فهيم لمر**

په لسم ټولګي کې وم، چې مور له کلي ځخه ښار ته را کډه شوو. له ماشوم توب ځخه مې له داکترۍ سره لېيده. يوه ورځ له ښونځي ځخه کور ته راغلم. له کلي ځخه، کلي وال مو راغلی وو. مېرمن يې ناروغه وه. ځان سره مې وويل: ته دو بيچاره ګانو ته وګوره، له څومره لرې ځای ځخه ډاکتر ته راځي. ځان سره مې هوډ وکړ کله چې داکتر شم، نو خامخا کلي ته ځم، د دې مسکينانو رنځ به دوا کوم. دولسم ټولګي ته شوم، او د کانکور ازموينې ته مې چمتوالی ونيولو. کال وروسته، په ازموينه کې مې ګډون وکړ. د کابل طبي پوهنتون ته بريالی شوم. د زده کړيالۍ دوره هم خپلې سختۍ لري. پوره اووه کاله مې زدکړې وکړې. او بلاخره ډاکتر شوم. خپل تخصوص مې هم د غاښونو په سر جراۍ کې واخيست .

کلی او پخوانی هوډ مې هېر وو، چې زه به يوه ورځ کلي ته د داکتر په صفت ځم. يوه ورځ مې ورور راته زنګ وکړ، وويل: چې د يوه کلي وال مېرمن مو ناروغه ده، ستا ادرس مې ورکړ، مرسته ورسره وکړه .

کلي وال مو راغی، روغ بړ مو وکړ. خو کله مې يې چې مېرمن وليده، نو پخوانې يادونه مې را ژوندي شول. هغه زما معشوقه ښکلا وه. ما ټول ځيزونه له ياده ايستي وو. نه پوهېږم چې بيا ولې را ونځېدل. هغې ډېر تغير کړی وو. خو سترګې يې لا هغه ښان شکلي وي لکه د آهو سترګې، له سترګو مې وپېژندله.

د خاوند ځخه مې يې وپوښتل څه ستونزه لرئ.
ځواب يې راکړ: ډاکتر صاحب! غاش يې ډېر درد کړلا، او نو بيا د کلي حکيم ته ورغلو، هغه وايستلو (حکيم يو غير مسلکي کس وو، چې د ډاکتر دنده يې په کلي کې پرمخ وړله. کله چې په کلي کې وو. زما د تره د زوی تل سر خوږېدا، نو کله به چې حکيم صيب ته ورغلا د چرسو يوه ټوټه به يې ورکړې وه، چې دا دې د غاښ لاندې کېږده جوړېږې، نيم کلی يې چرسيان کړل، بس د ده همدا يوه دوا وه ). نو وروسته له هغې نه، د مېرمنې مې د مخ شی لور ډېر درد کړي او کله بې حسه وي .

کله مې چې د غاشو عکس يې واخيست، ومې ليدل چې غاش يې په ډېر فشار او په غير مسلکي ډول ايستلی او لاندنی زامه يې ماته شوې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

موضوع مې ورته وويله. ورته مې وويل: يوه وړوکې عمليات ته ضرورت لري. د وويل: ډاکټر صاحب! د عملياتو لرښت څومره کيږي. لرښت مې يې ورته ووې. سړی غلی شو وويل: داکټر صاحب! دا خو ډېرې پيسه کېږي زه خو دومره نه لرم. ما ورته وويل: خير تشويش مه کوه، زه به يې پور درکړم، هرکله چې خدای درکړي بيا به يې راکړې.

دی ډېر خوشاله شو او مننه يې وکړه، چې زه به هيڅ کله ستا دا احسان هېر نه کړم. ورته ومې ويل: نه نه دا خبره به ته نه کړې ته خو مې کليوال يې دومره خو پر ما حق لرې.

ځان سره مې وويل: په ښکلا مې دومره درد نه لوريږي، دومره خو په ما هم حق لري. عمليات يې تېر شو. څو ورځې تېرې شوې. دې به تل د سترګو له څنګه راته کتل، خو څه يې نه ويل. مابه ځان نه پوهولو، ځان سره مې ويل دې به لا دمخه هېر کړی وي، لکه تا چې هېره کړې وه. وروستۍ ورځ يې وه نوره نو روخصتېده. خاوند ته مې يې ځينې دواوې وليکې، ورته مې وويل: دا دواوي واخله او بېرته يې ماته راوړه چې وېيې ګورم، او نور نو مېرمنه دې شه. دا کولی شئ لاړه شئ.

خاوند يې په دوا پسې ولاړ. دې ته مې وويل: چې يوڅو وخته احتياط کوه، ډېر ساره او تاوده شيان مه خوره. ما غوښتل له اتاقه بهر شم، چې غږ را باندې وشو سيلابه! دا دښکلا آواز وو. نيږ دې ورغلم. بيا يې وويل سيلابه! زه دې له ياده ايستلې يم. ته خو چې لاړې پسې لاړې، خپلې ټولې وعدې دې هم هېرې کړې. تا خو ويلې وو، کله چې ډاکټر شم نو بيا بيرته کلي ته راځم او خپلو کلی والو ته به خدمت کړم. زه ډېره ستا په انتظار کې پاتې شوم. خو ستا هيڅ درک معلوم نه شو. زه هم د بل چا شوم. خو زما لا تر اوسه له ياده نه يې وتلی، ستا هر ياد مې په سترګو کې تاويږي، خو اوس خبره له خبرې تېره ده .

له سترګو يې اوښکې راغلې. په دې دقيقې کې يې خاوند راغی، دوا يې را ښکاره کړه. دوا مې وليده، د استعمال سپارښتنه مې ورته وکړه او ورته ومې ويل: چې نور کولی شئ لاړ شئ.

زه خپل اتاق ته روان شوم، ورځ تېره شوه، ماښام کور ته روان شوم. ښکلا مې هيڅ له سترګو څخه نه لرې کيده. بيګا مې مور غږ وکړ چې ډوډۍ وخوره، خو زما هيڅ اشتها نه وه. ورته مې وويل: زه موړ يم. خو زه لا هم په پخوانيو يادونو کې ډوب وم. او د ښکلا هغه غږ بې مې تر غوږ شو، سيلابه! سيلابه..!

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوني تېره شوه کارته تلم راتلم خو ژوند مې بدل شوی وو. تل به مې هغه په خیالونو کې وه. بیا مې هم ځان ته تسلي ورکوله، سیلابه هغه نوره واده شوې. او تا خو لا دمخه هېره کړې وه، د زړه خبره مه منه لږ خپل عقل نه کار واخله.

میاشت وروسته مې تصمیم ونیولو، چې کلي کې یوه ماینه خانه جوړه وم، هم به یو څو وخته له ښاره لرې وم. او د خپل د ماشومتوب هڼه به هم پر ځای کړم. ټول شیان مې آماده کړل، پلار مې هم خوشاله وو، زماد تصمیم نه، او لادمخه یې کلیوالو ته زما د ورتلو زېری یې د کلی په خان کړی وو. مور مې ښه نه برېښېده او زما له تصمیم نه خوښه نه وه، خو پلار مې راضي کړې وه.

کلې ته مې د طبی وسایلو سره حرکت وکړ. کله چې کلي ته ورسېدم، کلیوالو او خان صیب لا د مخه زما د ورتلو لپاره یې تیاری نیولی وو. ټول خوښ ښکاریدل. خان صاحب روغ بړ وکړ. او ما ته یې وویل: داکټر صیب تر څو چې کلي کې یې ته زما میلمه یې، او زما میلمستون به ستا ماینه خانه وي .

ما نه غوښتل چې څوک راسره په تکلیف شي. خو د خان صاحب اسرار دې ته اړ کړم، چې د ده غوښتنې ته غاړه کېږدم.
څو ورځې تېرې نه وې چې د مریضانو قافلې را روانې شوې، له نږدې او لرې کلیو څخه څوک چې زما په راتلو خبر شوي و راتلل.

اونۍ لا تېره نه وه، چې د خان صیب کره د ښځو شور ګډ شو. ګړۍ وروسته خان صیب او یوه ښایسته پیغه زما معاینه خانې ته راغلل .

خان صیب ته مې وویل: خان صیب خیرت خو به وي
د لور مې په غاښ بریښ دی، ځان له درده په ځمکه ولي. ته یې یو ځل وګوره.
جلۍ ته مې وویل: مهرباني دلته په چوکۍ کېنه. کله چې غاش مې یې وکتلو نو اوبه یې اخیستې وي او سوری هم وو. دوا مې ورکړه. او سپارښتنه مې ورته وکړه چې یوه اونۍ ورسته دې راشئ، چې غاښ یې تداوي کړم.

زموږ په کلي کې د هلکانو ښوونځی وو، خو د نجونو ښوونځی نه و. کال مخکې دولت غوښتل چې ښوونځی جوړ کړي، خو خان صاحت ممانعت کړی وو. ویلي یې وو: موږ خپلې ښځې نه بې سطره کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو کله مې چې کلي کې د مریضانو وضیعت ولیدو، ډېر مې زړه درد وکړ چې څومره ستونزو سره لاس او ګرېوان دي، په ځانګړي ډول ښځې. زه په دې ښه پوهېدم، د دې ټولو منشاء د ښځو د مکتب نه ښتون دی. هغه متل دی وایي که یوه ښځه بیسواده پاتې شي نو یو نسل تبا کوي. زموږ په کلي کې هم همدا وضیعت وو. مېندو خپل او لادونه سم نه وو روزلي، نیم بنګاین او چرسیان وو، نیم بیا ایران ته په مزدورۍ تللی وو. نیم بیا د تربګنت او بدیو شا نیولي وه.

ځان سره مې هوډ وکړ، په هر ډول چې امکان لري خان صیب ته قانع کوم، ترڅو د نجونو ښونځي ته اجازه ورکړي. اونۍ تېره شوه، خان صیب له خپلې لور سره بیا راغلل، کله مې چې د خان د لور د غاش تداوي شروع کړه. د خان صیب سره مې هم بنډار شروع کړ.

ورته ومې ویل خان صیب هغه د نجونو د ښونځي کیسه څنګه شوه.
ده په ډېر فخر ځواب راکړ: شکر الحمد الله پرېمو نښود، چې د کلي نجونې بې سطره شي. ما ور غبرګه کړه خان صیب که په کلي کې کومه زنانه ډاکټره وی، نو تابه دا خپله ښایسته پیغله لور ماته تداوي ته راوستې وئ. دا خبره په خان صیب ښه ونه لږېده. را غبرګه یې کړه، دومره بیغیرته نه یم، کې وی نو تا ته مې نه راوستله. او د ضرورت په وخت کې خو ډاکټر محرم دی. ورته ومې ویل شا نو کې ډاکټره وی ماته دې نه راوستله، نو دا نجونې چې مکتب وه نه وایې نو له کومه به ډاکټره شي، له هوا نه خو نه را کوزیږي. خان صیب باندې خولې روانې شوي. او څه یې وه نه ویل.

او پو شوم چې ده ځان پړ احساس کړ، نو ور غبرګه مې کړه، خان صیب د نجونو په تعلیم کې خو څه ستونزه نشته، او تعلیم خو فرض ده.

دی سره د خپلې لور روان شو. نور مریضان مې هم معاینه کړل، نن ورځ ډېر زیاد وو، ډېر ستړی شوم. معمولن هر بیګاه د خان صیب زوی ډوی راوړله، خان صیب هم راتلا، زما سره یې په ګډه ډوډۍ خوړله. نن خان صیب نه ښکاریدا، زوی یې یواځې راغلی وو. پوه شوم چې خان صیب زما په خبرو خپه شوی وو .

سهار وختي چې کله لمانځه ته را ویښ شوم، چې د خان صیب غږ مې تر غوږ شو، ډاکټر صیب! ډاکټر صیب!
ځان سره مې وویل: خدای دې خیر را پېش کړئ چې خان صیب په دې سهار وختي کې څه وایي.
ورته ومې ویل: خان صیب خیرت دې په دې سهار وختې کې څنګه راغلی یې. را غبرګه یې کړه، خیرو خیرت دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته راځه چې لږ به وګرځو او خبرې سره وکړو.

ډاکټر صیب ستا په پرونۍ خبره مې ډېر سوچ وکړ، ټوله شپه خوب رانغلو او دې نتیجه ته ورسېدم چې ته په حق یې. د نجونو لپاره یو ښوونځی ضروري دي. او په دې توګه نه دا چې زموږ ښځې بې سطره کېږي نه، بلکه زموږ عزت پرځای کیږي. نو زه به دا خبره په کلي کې هم یاده کړم، او له ملا صیب سره به مشوره پرې وکړم.

ته داسې وکړه چې نن د ماسپښین لمانځه ته جومات ته را شه، کله چې مو د ماسپښین لمونځ ادا کړ، خان صیب را جګ شو او خبره یې له خلکو سره شریکه کړه، ملا صیب هم وویل: دا خو ډېر ښه کار دی. نورو کلیوالو هم د خبرې په مقابل کې ډېر غبرګون و نښود، د خان صیب په ټینګار او ملا صیب د اسلام له نظره د مسله په جدیت خبرې وکړې. لږ بحث نه وروسته ټول راضي شول.

کومې موسسهٔ چې غوښتل زموږ په کلي کې مکتب جوړکړي، د ریس سره یې په تماس کې شوم، ریسس یې وویل: که کلیوال موافقه وکړي، ډېر ژر به د ښونځي ځای تعین او د ښونځي د ودانۍ چارې به پیل کړي. کلیوالو هم د ټولو په مشوره د جومات څنګ د ښونځي ودانۍ ته غوره وګڼلو .

زما د کال په پوره کېدلو، په کلي کي د ښونځي د ودانۍ چارې هم تکمیل شوې. ما څه موده مخکې بهر کې د PHDپرګرام ته نوم لیکنه کړې وه، او په کلي کې د انترنټ د نشتون له امله مې خپل ایمل خپل ورو ته ورکړی وو. تر څو چک یې کړي او ما خبر کړي. ورور مې را ته زنګ وکړ، چې دې پروګرام ته بریالی شوی یم او ژو دې ځان دانتریو لپاره راورسوه. خان صیب سره مې خبره شریکه کړه، او کله چې کلیوال هم خبرشول ټول ډېر خپه وو، خو چاره نه وه. ټولو نه مې خدای په اماني واخیسته او د ښار پر لورې روان شوم .

21

لیکوال : رفیع الله ارمان

د دروازې له ټک ټک سره د مادک دتندي ګونځې سره ورغلې، رانیغ شو لاس یې وتپاوه توفداني یې له غاړې ونیوه شنه څاڅکي پورته والوتل میرمن یې خوله بده ونیوه.
دروازه بیا ووهل شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه شیبه چوپیتاوه. داخل دروازه نوره هم په زوره ووهل شوه.
مادک پاڅید له اوږو یې خیرنه خړه کمپله شاته ولویده، ښځې ټکری سره راټول کړ، په سر یې لاس تیر کړ غړوڅکه ویښتان یې له پیوند ټیکري راوتلي ول کمپله یې د بوغبند په سرتاوکړې خطا کړه.

مادک د دروازې شاته غږ کړ:
څوک یې؟
معلم عطا یم، مادکه لکه چې په رڼا ورځ هم اوس ویریږې، زر زوږ شوې سړیه.
شرنګ شو د دروازې ځنځیرله دړې سره ولګید، دواړو سره غیږې ورکړې، خو د مادک لاهم طبیعت ګونځې و.

معلم صیب وویل
مادکه زړه مې تنګ شو کور کې ماشومانو بد حال اچولی و، د پیتاو هم خوند نه و یوازې څونډی په یوه ډډه دیوال خوا ته ناست و ما وې تاسره به غورې وکړم.
مادک دوه دری ځله په زوره وټوخل.

معلم صیب یې سترګو ته وکتل، طبعه یې ښه نه وه. وویل
ولې مادکه تر اوسه خو رک روغ وې او ښه نیغ دروازې ته را روان وې داولې یو په یوټوخي واخیستې؟

مادک له دیوال نه راتویې شوې نجمنې خاورې ته سترګې نیولې وې
وویل
معلم صیب د ماشومانو مور یې له وړو سره یوځای له پلار کره ولاړه او زما هم وضعه ښه نه ده؛ همدا اوس هم په کمپله کې پروت وم په کوټو کې سیلۍ چلیږي، واړه مې هم ټول ناروغان دي ټول ټوخیږي...

معلم صیب یې خبره ونیوه
غم مه کوه مادکه هسې ځان ته زړه خورې، غم چې په عالم و هغه غم نه دی؛ د مني شپې همداسې سړې وي د میزان ستوری په راختو دی څو ورځې وروسته هوا نرمیږي.
مادک بیا څو پرله پسې ټوخي په زرو له ستوني را وایستل، بیا یې زیاته کړه

معلم صیب که د خوښه وي زه به بیرته کوټې ته ولاړ شم یخنۍ مې وضعه نوره هم ښه نه کړه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلم زړه نازړه وویل
سمه ده مادکه ورځه نور د نه تکلیفوم.
خو ته به هم راسره تللی وې!
نه مننه کور د آباد، ځم د جومات تبې به ګرمه وي یوسات به پام غلط کړو.
مادک معلم صیب ته مړ لاس ورکړ او دروازه یې ورپسې پورې کړه.

معلم صیب تر جوماته خواشینی روان و، نه پوهیده چې نن ولې مادک بې خونده و. مادک په ټول کلي کې په ټوکو کې نمره وړې وه، لرې لرې کلیو ته به ځوانانو په زور ورسره روان کړی و. په ډېرو کلیو کې یې د ټوکو مسابقې ګټلې وې، څو ځله خو یې له ملګرو سره ښه وهل هم خوړلي وو.

مادک کوټې ته ننوت. میرمن یې د کړکۍ له تاخچې راکښته شوه، شنه خیرنه پرده یې سره سمه کړه د مادک په اوږو یې کمپله ور واچوله وویل

سړیه مالم صیب څه ویل؟
مادک تکیه وکړه په بیرتو یې ګوتې تیرې کړې لمدې شوې، لاس یې په کمپله وموښه وویل
دا خلک لیوني دي، نه د چا غریبۍ ته ګوري نه دې یخنۍ ته، بس را روان به وي وایي به کور کې مې زړه تنګ و، خدای یې د دوه ټوټې کړي زموږ چې زړونه تنګ دي چیرته ولاړ شو.
خیر دی سړیه خو همداسې د آموخته کړي، ټوله ورځ ته یې او د دوی وازې خولې، څو ځله مې درته وویل چې دا خلک هسې درباندې خپل سات تیروي، له خوارۍ مزدورۍ یې ایستلی یې، نه وینې په کور کې دومره لرګي نشته چې غاښ پرې وټومبو، دا سوړ ژمی په دې کادانه کې نه تیریږي، د حیوانانو به له ددک کره څومره زړه تنګ وي؛ دا یې څومه ورځ ده چې هلته له یخنۍ تښتیدلي دي، سنګینه مې ډیره یادیږي امرو خو خیر اوس غټ دی .
مادک له کمپلې غاړه راجګه کړه په یوه ځنګ کوږ شو ګونځې شین پلاستیک یې له جیبه را وایست ویې څانډه.

ښځې پرنج وهل زر یې ټیکری په خوله اوپوزه تیر کړ.
ها دادی نسوار د هم خلاص شول، تربیګا به بیا درسره خبره نه کیږي آخر دا ټول دې له خپله لاسه، اوړی به مې له ورونو سره نیش ته تللی وې اوس به د پوره ځلویښت زره کالدارې راوړې وې ژمی مو ښه ګرم پرې تیریده...
مادک د کوټې دود وهلو تیرانو ته سترګې نیولې وې زر زر یې رپولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دروازې ټک ټک شو.

اوچت رانیغ شو په خوشکه یې وویل
ښځې ورشه ګنې په مایې داخل سم بیابه کوې، ورته وواېه مادک نشته په خوارۍ پسې تللی دی !

ښځې غټې پایڅې سره راټولې کړې د کوټې ور یې په درب وواهه ووته، لا برنډې ته نه وه رسیدلې چې دروازه بیاووهل شوه

غږ یې کړ
درغلم څه تندر را لویدلی چې داسې په توده غلانځ یې؟ !
مادک کړکۍ ته ور ولاړ شو پرده یې لږ یوې خوا ته کړه، ببر تارونه یې سترګو ته ودریدل.
تورۍ مادک لالا ته غږ کړه، کلیوالو ویل نن د خازم اکا په هجره کې بنډار دی.

ښځې وویل
ځې خوار شئ، مادک خوستاسو د ساتیرۍ نه دی چې ټوله ورځ به یې غېږوئ، څه ورک شه سره له خازمه، مادک نشته پرون سهار په خوارۍ پسې له کوره...
خبره یې نه وه پوره کړې مادک له کړکۍ پرې غږ کړ
درغلم بازګلیه درغلم
ښځه حیرانه ودریده!
په مادک پسې یې څادر ځمکه جارو کوله له دروازې ووت
په تلو کې یې وویل.
دروازه بنده کړه ویده نه شې! چې بیا به یې په ډبولو ټول کلی را ویښ شي زه بیرته راځم .

22

**لیکونکی :عبدالهادی همت**

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه پاچا امر وکړ، چې سپین ږیري بوډاګان باید ټول ووژل شي، هغلته یو زلمی و، له خپل پلار سره یې بې سارې مینه وه. زلمی چې له یاد حالت نه خبر شو، پلار یې د کور په یوه پټه کوټه کې خوندي کړ، د یاد پاچا فوځ چې کله راغلل، پلټنه یې پیل کړه؛ خو په موندلو یې بریالي نشوو، بیرته خالي لاس ستانه شوو.

د وخت په تېرېدلو پاچا د جاسوسانو پر مټ ومونده، چې هغه خپل پلار پټ کړی دی. پاچا و انګېرله، وړاندې له دې، چې پلار یې ووژل شي او زوی یې بندي کړای شي، پرې ازموینه وکړه..

یو فوځي یې ور واستاوه، ورته یې کړه: پاچا در نه غواړي، چې صبا وختي د هغه په وړاندې پلی سوور حاضر شې. زلمی حیران شو، پلار ته د مشورې له پاره ورغی، یاده پېښه یې ورته بیان کړه. پلار یې موسکی شو ویې خندل! ورته یې کړه: په یوه ستر لرګي پښې واړوه، د پاچا د ناستې ځای ته مخامخ پلی سوور ورشه. همداسې یې وکړل. پاچا د یاد ځوان له زیرکۍ او پوهې نه حیران شو!

پاچا ورته وویل: ځه لاړ شه، صبا لوڅې پښې په ګوتو کې راشه! هغه بیا د پلار په لور و خوځېد، د پاچا په غوښتنه یې خبر کړ. پلار ورته ویل: ستا موزې را و باسه، هغه همداسې وکړل. پلار یې له موزو نه لاندینۍ برخه (تلی) وویسته، ول اوس یې په پښو کېباسه، پاچا ته ورشه. هغه همداسې وکړل. پاچا یې بیا له زیرکۍ او هوښیارۍ نه اغېزمن شو.

دریم ځل پاچا ورته کړه: ځه لاړ شه، صبا په داسې حال کې راشه، چې دوست او دوښمن در سره وي. ځوان ولاړی، یاده کیسه یې پلار ته بیان کړه. د پلار یې په شونډو موسکا خوره شوه، ورته یې کړه: له ځان سره خپله ښځه او خپل کورنی سپی مله کړه، هر یو د پاچا په وړاندې ووهه. ځوان ور غبرګه کړه: څنګه؟ پلار ورته کړه: بس همداسې وکړه، و به ګورې، چې څه کېږي!

زوی د خپل پلار د مشورې سره سم د پاچا په وړاندې، ښځه ووهله! هغه په سوو کړیکو سر شوه، خپل مېړه ته یه کړه: ژر ده، چې په کړې کړنه به (پښېماني) شې. سم د لاسه یې پاچا خبر کړ، چې مېړه یې پلار په ځمکنۍ سمځه کې پټ ساتلی دی. مېړه یې همدلته پرېښود، هغې د کور پر لور موخه کړه. له مشورې سره سم یې سپی هم وواهه، هغه هم په غپا ترې وتښتېد. پاچا ورته کړه: په همدې کړنلاره کې د وفا او جفا څرک څه ده؟ ځوان سپی را وباله په بیړه د څښتن خوا ته راغی په داسې حال کې چې د مینې اظهار یې کاوه، اما ښځه په خپله موخه لاړه، رښتیا تر بده ښځه، سپی هم زیاته وفا لري؟

پاچا ورته کړه: سبا پلار هم در سره راوله. په سبا د پلار په ملتیا د پاچا و محکمې ته وړاندې شو. پاچا یې و پلار ته کړه: له دې امله چې یو پوه او او زېرک وګړی یې؛ ته به زما مشاور او مرستیال یې! زوی یې د پلار د حکمت له امله د مرګ له لومې خلاص شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني ليکوالو څو مرغلرې پېرې يلې وي ، او له تاسو سره مي شريکي کړي، که کومه سهوه يه ليکو کي شوې وي، هيله ده ښښنه وکړئ.

ماخذونه

پورتنی ليکلې کيسي د ځينو ليکوالو هم دي ، چي له هغه جملي څخه دي ؛:

I. محترم عبيدالله پټان
II. محترم خليل جمال –
III. محترم شاهين
IV. محترم عبدالله حيران
V. محترم جانباز

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**